# په پښتو لغت جوړونه کې د حمید مومند هڅو ته کتنه

څېړنوال رحیم الله حریفال

**Associate Prop. Rahimullah Hrifaal**

**لنډیز**

نیولوجیزم د یوې ژبې د لغوي زېرمې (Vocabulary) لـه څلورو برخو څخـه یوه برخه (۲۵ ٪) جوړوي او درې نورې برخې یې (لهجوي کلمې، د خپلې ژبې زاړه لغتونه یا ارخایزم او پور لغتونه) دي چې (۷۵٪) کېږي.(۱) نیولوجیزم که له یوې خوا د یوې ژبې د ویونکو ورځنۍ اړتیا ده، له بلې خوا بیا د یوې ژبې د پرمختګ لپاره مهم ډګر ګڼل کېږي، ځکه که د یوې ژبې ویونکي وغواړي چې له اوسني پرمختللي پېر سره خپله ژبه برابره کړي او د ټکنالوژۍ په دې چټکه بدلېدونکې نړۍ کې د خپلې ژبې لپاره مناسب ځای ومومي، نو د نیولوجیزم په برخه کې کار او زیار ډېر مهم دی.

که څه هم په ژبه کې د لغتونو منځ ته راتګ یا هم د نویو لغتونو جوړونه یو طبیعي بهیر دی او دا بهیر د عام ولس په کچه په ناشعوري توګه هم مخ ته وړل کېږي او د ولس له خوا نوي لغتونه منځ ته راځي او د ژبنۍ وییپانګې برخه ګرځي، خو بل لور ته بیا د یوې ژبې د پوهانو، لوستو کسانو او پوهنیزو بنسټونو له لوري په شعوري توګه د نویو لغتونو جوړول او دې بهیر پام اړول دي، چې دا کړنه او هڅې له ځانګړي ارزښت څخه برخمن دي او دا ځکه چې د ژبې پوهان په شعوري او اګاهانه توګه دا اړتیا محسوسوي، په ډېر غور او دقت سره نوي لغتونه جوړوي.

په دې تحقیقي مقاله کې په لنډیز سـره د پښتو لغت جوړونې یا نیولوجیزم پر تاریخي بهیر لنډ بحث شوی دی او اړ یو چې په تاریخي لحاظ پرې رڼا واچوو، خو د دې تحقیقي مقالې اصلي موضوع د پښتو نیولوجیزم(نویزونو) په برخه کې د حمید مومند هڅو او کوششونو ته ځانګړې شوې ده او په اړه به یې بحث وشي.

**Abstract:**

Neologisms make up one-fourth (25%) of the vocabulary of a language, and the other three (dialectal words, archaisms, and loanwords) make up the 75%. On the one hand, neologisms are a daily necessity for speakers of a language, and on the other hand, they are considered an important area for the development of a language. Because if speakers of a language want to adapt their language to the current advanced era and find a suitable

place for their language in this rapidly changing world of technology, then work and effort in the field of neologisms are very important.

Although the emergence of words in a language or the creation of new words is a natural process, this process is also carried out unconsciously by the general public, who create new words and incorporate them into the linguistic vocabulary. But on the other hand, the conscious creation of new words by scholars, educated people, and academic institutions of a language and the attention paid to this process are of special value because these actions and efforts are of special value. After all, linguists consciously and unconsciously feel this need and create new words with great care and attention.

In this research article, we briefly discuss the historical process of Pashto word formation or neologisms, and we need to shed light on it from a historical perspective. However, the main topic of this research paper is dedicated to Hamid Momand's efforts in the field of Pashto neologism and will be discussed.

**د پښتو لغت جوړونې(نیولوجیزم) تاریخي بهیر ته لنډه کتنه**

کله چې د ژبو په اړه مطالعه کېږي، نو د دغې مطالعې شروع د بشري ژوند له مطالعې سره یو ځای را پیلېږي، ځکه ژبه له انساني ژوند څخه یوه نه بېلېدونکې او د ژوند مهمه برخه ده، له ژبې پرته انساني ژوند خپل رنګ او ښکلا بایلي او همدا ژبه ده چې انسان پرې خپل افکار، خیالات او تصورات له نورو همنوعانو سره شریکوي، نو کله چې د ژبې مطالعه له بشري ژوند سره مل پیلېږي، همدارنګه د نویو لغتونو د جوړولو لړۍ هم بیا له ژبې سره خوا په خوا را روانه وي، ځکه د بشري ژوند غوښتنې له لومړۍ ورځې د پراخېدو او توسعې په حال کې دي، نو د دغو غوښتونو او اړتیاوو لپاره په ژبه کې د نویو لغتونو د جوړېدلو اړتیا لیدل کېږي او دا لړۍ د ژبې له پیدایښت څخه تر اوسه پورې دوام لري او تر هغه پورې به غځېږي؛ تر څو چې د نړۍ پر مخ بشري ژوند او ژبه وي. د نیولوجیزم په برخه کې یو مهم بحث دا هم دی چې د ژبې ویونکي په غیر شعوري توګه د لغتونو جوړولو لړۍ مخ ته وړي او په ژبه کې د ورځنۍ اړتیا له مخې د نویو لغتونو جوړېدلو ته لار پرانیزي او بله برخه بیا د ژبې د متخصصو کسانو او پوهانو له خوا د عیني ضرورت له مخې په اګاهانه او شعوري توګه د لغتونو جوړولو بهیر دی. دلته مونږ د لومړني ډول نیولوجیزم په تاریخچه خبرې او بحث نه کوو او امکان هم نه لري، بلکې مونږ د لغتونو د جوړولو د هغه بهیر په اړه رڼا اچوو او پر تاریخچه یې خبرې کوو چې په شعوري او اګاهانه ډول د ژبې د متخصصانو

او نورو پوهانو د ګډو هڅو او زيار په پايله کې منځ ته راغلی او يا هم راځي او د ژبې د ويونکو د وخت اړتياوې پرې پوره کېږي.

په ژبساتنه نومي اثر کې په پښتو ژبه کښې د لغت جوړونې په اړه ليکل شوي دي: د پښتو تر ټولو لرغونې لاس ته راغلي ليکنه د امير کروړ وياړنه ده چې له نن نه يو زر دوه سوه او څو شپيته کاله وړاندې د (۱۳۹ ــ ۱۵۴) هجري قمري کلونو په منځ کې ويل شوې ده، دا وياړنه سره له دې چې د تاريخي ژبپوهنې د اصولو له مخې په ګڼو لرغونو لغتونو او بنسټونو پسوللې ده، داسې لغتونه هم په کې شته چې د وخت ضرورت او د ژبې د اصولو په رڼا کې له نورو ژبو نه د راغلو لغتونو پر ځای جوړ شوي دي. په دې وياړنه کې دوه هغه لغتونه چې پښتونخوا ته د اسلام د سپېڅلي دين تر راتلو وروسته جوړ شوي دي، د ,,دريځ ,, او ,,ستايوال,, چې د ,, منبر ,, او ,, خطيب,, په معنا دي، دريځ د درېدو له ځای څخه لنډيز شوی او ستايوال د ستايل له ريښې او د ,,وال,, له فاعلي لاحقې نه جوړ دی: **«نرۍ زما ده نوم مې بولي په دريځ ستايوال».(۲)**

کېدای شي له ځينو سره به دا پوښتنه پيدا شي چې دا لغتونه خو نوي نه دي جوړ شوي، بلکې دا د پښتو ژبې خپلې سوچه کلمې دي او په هماغه وخت کې به په ځينو لهجو کې موجودې وې، خو دلته خبره دا ده چې دا لغتونه د عربي ژبې د لغتونو پر ځای لکه منبر= دريځ، خطيب = ستايوال کارول شوي دي. د نورو ژبو د لغتونو د بديل موندلو لپاره په نيولوجيزم کې يوه برخه او بله لاره هم شته، هغه دا چې د خپلې ژبې له لهجو څخه د پرديو کلمو پر ځای د لغتونو انتخاب او بيا د هماغې نوې کلمې پر ځای په نوې معنا په ټولنه کې دودول دي. نوي لغتونه هغه وخت په ژبه کې منځ ته راځي چې ژبې ته نوي مفاهيم لاړ وموږ که موږ د امير کروړ په وياړنه کې پښتو لغتونو ته ځير شو، نو د عربي ژبې د مفهومونو او لغتونو پر ځای پښتو لغتونه جوړ شوي او کارول شوي دي. بل دا د پښتو نيولوجيزم تاريخچه د امير کروړ له وياړنې څخه ځکه پيلېږي چې تر دې وړاندې کومه لاسته راغلي ليکنه نه لرو، خو دا داسې معنا نه لري چې مخکې له دې څخه د نويو لغتونو جوړولو لړۍ نه وه، نو په عمومي توګه ويلای شو چې د لغت جوړولو تاريخچه هماغه د ژبې د منځ ته راتګ يا بشر له پيداينت سره را پيلېږي او تر څو چې ژبه وي، د نويو لغتونو د جوړولو بهير به هم روان وي او د نيولوجيزم تاريخچې ته که نظر واچوو، نو ورځ تر بلې دا اړتيا زياته شوې ده، څومره چې ژوند پراخه شوی، په هماغه کچه د نويو لغتونو اړتيا هم ډېره محسوسه شوې ده. اوس چې د نرۍ ژوند د ټکنالوژۍ او سرعت ژوند دی، نو په دې وخت کښې د نيولوجيزم ضرورت تر بل هر وخت زيات محسوسېږي او څومره چې نوې پوهنې رامنځ ته کېږي او ټکنالوژۍ پراختيا مومي په هماغه اندازه به د نويو لغتونو جوړولو لمن هم پراخېږي.

په ,,ژبساتنه,, اثر کې د امير کروړ په وياړنه کې نوي لغتونه د نيولوجيزم په ډګر کې خورې ورې هڅې بلل شوې دي او تر دې تاريخي هڅو وروسته چې په شعوري ډول يو غورځنګ د نويو لغتونو جوړولو ته پام کوي، هغه روښاني غورځنګ بلل شوی دی چې دا غورځنګ په لسمه هجري پېړۍ کې د بايزيد

روښــان پــه وسـيله پيـل او د نومـوړي د پيروانــو پــه همـت تـر يوولسـمي پيـړۍ را اوړي. روښـاني غورځنـګ د پښـتو لغت جـوړوني پـه ډګـر کـې فعالـه برخـه اخلـي. د غورځنـګ بنسـټ اېښـودونکي او لارويـان يـې پـه دې برخـه کـې منظم کـار پيلـوي او پـه لغت جوړونـه کـې درې ډولـه فعاليت ترسـره کـوي: ۱. نويـو څېزونـو تـه يـې نـوي نومونـه اېښـودل. ۲. د پرديـو ژبـو د لغـاتونو پـر ځـای يـې د پښـتو ژبـې خپـل لغتونـه کارول. ۳. د عربي، فارسي او نورو ژبو لغتونه يې مغفن کول.**(۳)**

دلته يې ځيني لغتونه د بېلګې په توګه را اخلو: ۱. متوضي= اودسي ۲. قياس = اټکل ۳. زخمي = پرهـارژلی ۴. آمادګي= تـابيا ۵. چـار پـای = څلوربول. ۶. جنبنده = خوځېدونی ۷. ذيروح = ژوی ۸. اشاره= نغوته ۹ . کشايش = کښايل.

استاد رفيع يې د مغفناتو په برخه کې وايي: په لومړي نظر سړی داسې فکر کوي چې دا مفغنات به د روښـــاني آثارو د کاتبانو له لوري شــوي وي، خو کله چې د روښـــاني شـاعرانو د اشـعارو په قافيو کې دا ډول مفغنات ليدل کېږي، نو باوري کېږي چې دا کار روښـــانيانو د يوه ټاکلي پروګرام له مخې کړی او د نورو ژبو لغتونه يې په قصـــدي او ارادي توګه د پښتو د ښـې پوهېدنې لپاره د پښتنو په ګردود را اړولي او پښـتو کړي دي چې دوه بېلګې يې را اخلو:۱. پليد= پليت ۲. تمه = طمع.

خوشحال خان خټک ( ۱۰۲۲ـ ۱۱۰۰ هـ ق) لکه څنګه چې د پښتو ژبې د پرمختګ او پراختيا په نورو ډګرونو کې ساری نه لري، همدارنګه دې نوميالي اديب او فليسوف دغي مهمې او ارزښتمنې برخې ته هم پام کړی دی. استاد رفيع په خپل کتاب ,,ژبساتنه,, کې ليکلي دي: خوشحال خان په خپلو ادبي تخليقاتو کې له يوې خوا، د پښتو ډېر سوچه لغتونه خوندي کړي او له بله پلوه يې ډېرې نومونې، نوم اېښـــودنې او لغت جوړونې کړې، چې دلته يې ټول نه څېړو او يوائې يوه نومونه يې را اخلو:

,, د لمريز کال دولس برجونه چې نجوميانو په خپلو څېړنو کې عربي نومونه ورته اېښـې وو: ,,حمل، ثور، جوزا، سـرطان، اسـد، سـنبله، ميزان، عقرب، قوس، جدې، دلو، حوت,, او د فارســي ليکوالانو او شـــاعرانو بيا په فارســي کې نومونه ورته اېښـــي وو: ,,فروردين، اردی بهشــت، خرداد، تير، مرداد، شــهريور، مهر، آبان، آذر، دی، بهمن او اسفند,, خوشحال خان دا نومونه په پښتو را واړول او په يوه قطعه کې يې ځای کړل:

,,حمل,، ,,ثور,, دا دواړه ,,فروردين,، اردی بهشت,, دي
پښتو به درته وايم اول ,,وری,, دوهم ,,غوځکی,,
,,جوزا,, او ,,سرطان,، ,,خرداد,, او ,, تير,, دي په حساب کښې
پښتو يې ,,غبرګولی,, او ,, کنی کبر,, حساب دی
,,اسد,، ,,سنبله,, دواړه ,,مرداد,، ,,شهريور,, دي
پښتو ,,سنبله,، ,,وږی,، ,,اسد,, وګڼه ,,زمری,,
,,ميزان,، عقرب,, دا دواړه ,,مهر,، آبان,,سره حساب کړه
پښتو ,, تله,، ,, لړم,, دي دا دې ياد لري سړی
,,ليند,، ,,ورغومی,, څه دي، لا دا دواړه درته وايم
يو ,,قوس,,دوهم ,, جدی,, دواړه دا دي,, آذر,، ,,دی,,

چي ,,دلو,,، ,,حوت,, ووايي يو ,,بهمن,, بل ,, اسفندار,, کړه
پښتو له ما نه واوره يو ,,بوکه,, دوهم ,,ماهی,,
د خوشحال بابا همدا د مياشتو نوم اېښودنه وه چي تر اوسه په ډېر لږ تغيير را پاتي ده او د افغانســـان په کليزونو او دفترونو کي ليکل کېږي: وری، غويی، غبرګولی، چنګاښ، زمری، وږی، تله، لړم، ليندی، مرغومی، سلواغه،کب.(۴)
پورتــه مــو پــر لرغــوني ادبــي دورې ســربېره د دوو هغــو فرهنګــي او ادبــي جريـانونو د پيروانــو لــه خــوا د نويــو جوړونــو پــه تاريخچــه رنـا واچولـه چــي د پښـتو ژبــي لپـاره يــي پـه نــورو ډېـرو برخـو کــي هم ستر ستر خدمتونـه پـه ميـراث پرېښـي دي. د پښــتو د کلاســيک ادب پــه زيــاتو آثــارو کــي مــونږ نيولــوجيزم تشخصــيولای شو، خـو پـه دې برخـه کـي لکـه څنګـه چـي مخکـي هم اشـاره ورتـه وشـوه تـر بـل هـر چـا نـه زيـات بايزيـد روښـان پـه خپلـو تأليفـاتو، يعنـي پـه خيرالبيـان کـي لـه نيولـوجيزم څخـه زيـات کـار اخيسـتی دی، د ده پـه آثـارو کــي د نيولــوجيزم ډېـره زېرمــه ليدلــه کېــږي، لکــه: اودس مــاتي کســان (بــي اودســه کســان)، اودســی (اودس لرونکــی)، شرمځای (عورت)، هوس اوبه (مذي) او داسي نور...
دغه لغوي زېرمه موږ ځکه د بايزيد روښان نيولوجيزم ګڼو چي له ده څخه دمخه آثارو کي چي په پټه خزانه کي يي بېلګي موجودې دي، د دغســـي لغاتو څرک نشـــته. د ده د عصــــــر په آثارو مثلاً د اخوند درويزه په مخزن الاسلام کي هم چي د بايزيد روښـان د تأليفاتو په شان ورته موضوعات لري، دغه لغوي زېرمه وجود نه لري او له پير روښانه وروسته هم حتی د ده د خپل مکتب د پيروانو په آثارو کي نشته، نو د دې معنا دا ده چي دغه لغوي زېرمه خپله د بايزيد روښان نيولوجيزم دی او بس. (۵)

## حميد مومند او پښتو نيولوجيزم(Neologism)

د حميد د ديوان او نورو آثارو مطالعه دا خبره زباتوي چي حميد د خپل وخت دود علوم لوستي وو. په ديني او شرعي علومو کي د ښې مطالعي څښتن و او په ادبي علومو کي يي ښــــه لاس درلود. په پارســـي او عربي او حتی د هندي ژبو په ځينو لهجو پوهېده. په ديوان کي يي د يوې پښتو ـــــ هندي ملمع غزلي او ځيني هنداالاصله ويېونو موجوديت د دي خبرې ښـــــه لاســـونـــد دی. د ددہ د آثـارو مطـالعـــه دا هم راښــــيـي چي حميد پر پښتو ادب سربېره په پارسي ادب کي هم ژوره مطالعه درلوده او د پارسي ژبي پر ادبياتو هم لاس بری و.(۶)
پوهاند مجاور احمد زيار د ,,عبدالحميد مومند ياد,, د سيمينار د مقالو په ټولګه کي د ,, د حميد مومند ليکلار,, تر عنوان لاندي مقاله کي د حميد مومند په اړه ليکلي دي:
د يوې ګډې ټولنيزې کره ليکني او ادبي پښتو رغښتي او ښېړتيايي بهير چي سم دلاسه د امير کروړ له وياړني سره را پيلېږي او له بايزيد روښانه نيولي تر خوشحال خان خټک، قادر خان خټک، عبدالرحمن بابا پورې بېلابېل پړاوونه وهي، د نازک خيال شـــاعر حميد مومند له ستـرو او تلپاتي ادبي شـهکارونو سره ډېرو لوړو څوکو ته رسېږي او د هندي سبک د يوه نوي ځانګړي رومانتيک ـــ استيتيکي ښووڼځي د بنسټوال په توګه يي خپل را

وروسته لارویان هم دغې خوا ته هڅولي دي. د حمید د شعر ژبه ډېره پراخه، بشپړه او هر اړخیزه ده او د همدې لپاره پر خپله لنډ تنګ سمیه بیز پښتو ګردود بسیا پاتې شوی نه دی. هم یې ورســـره له تاریخي ادبي پانګو(ارکایزمونو) او نویو رغاونو(نیولوجیزمونو) کار اخیستی او هم یې له پارسي، عربي او هندي پوروییونو او بېلابېلو پښتو جغرافیایي ګړدودي پانګو او بېلابېلو مورفولوژیکي او نحوي رنګارنګیو او وریښتونو څخه داسـي چې د اوســنۍ(کره لیکنې پښتو) د انتخاب او ټاکنې په برخه کې اړوندو څانګوالو ســره ډېره ښه مرسته کولای شي.(۷)

هو یوه بل نومیالی شــاعر او ادیب چې پښتو نیولوجیزم ته یې پام کړی دی هغه حمید مومند دی او حمید هغه څوک دی چې د نیولوجیزم په برخه کې ځان ته مشـــخصـــې کړنلارې لري او له بایزید روښـان نه وروســته د نیولوجیزم په منځ ته راوړلو کې حمید مومند دویم ځای لري، ځکه د ده په څلور واړو آثارو کې د نیولوجیزم بېلګې ډېرې دي.

د حمید په کلام کې دوه ډوله نیولوجیزم لیدل کېږي: ۱. قیاســـي نیولوجیزم ۲. غیر قیاسي نیولوجیزم.

دلته یې هر یو د بېلګو په ترڅ کې درپېژنو:

**۱. قیاسي نیولوجیزم**

دلته د هغو مرکبو کلمو له جوړښت څخه عبارت دی چې په ژبه کې د هغه د جوړښت مبادي موجود وي او ګرامري ستونزه ونه لري، لکه: دغه څو راتلونکې کلمې: اوښلن ــ وښلن.

د (لن) سوفیکس په مرسته له (اوښه، اوښکه) څخه د صفاتو جوړول په پښتو ژبه کې قیاسي جوړښت دی. دغه صفات حمید داسې راوړي دي:

**اوښلن:** له اوښکو ډک په اوښکو ککړ.

**وچ کــوکــل، اوښـــلـــنـــي ســـتـــرګـــي ګـــونـــه زېـــړه**
**ګوښې ګوښې کړې زما په آشـــــــــــــــــــــــنا غرض**

**بـــي زمـــا آتشـــــیـــن آه اوښـــلـــنـــو ســـتـــرګـــو**
**نـــه یـــي شـــــتـــه بـــل آب و تـــاب د حســـــن کُـــف (۸)**

**زېرمول:** ذخیره کول، قاموســونو د فعل په صــیغه نه دی اخیســتی یوازې یې (زېرمه) اخیســـی دی. له زېرمه څخه د (زېرمول) جوړول هم قیاســي جوړښــت دی، لکه: له لټې څخه لټول، له هڅې څخه (هڅول) فعل چې نه پښـــتو قاموســـونو اخیســـتی او نه د نورو کلاسیکو شاعرانو او لیکوالانو په کلام کې راغلی حمید داسې راوړی دی:

**چـــي طـــلـــب در څـــخـــه نـــس خـــواږه تـــروه کـــا**
**زېـــرمـــوي ســـــبـــا حـــلـــوا بـــېـــګـــاه شـــــوروا (۹)**

**پوری ژل: (پورژنی) د وروســـتلو، ورجلاکولو پورې وهلو په معنا «زېره پانګه» اثر را اخیستی دی د حمید بابا په شاعری کې هم پورتنی معنا لري:**

ګـفـتـګـوی آزاد تـوتـی پـه قـفـس بـنـد کـا
پـوررژنـي هـر سـړی بـلا تـه ژبـه

**۲. له قیاسه مخالفې جوړونې**
د حمید په آثارو کې ډېر څله داسې اشتقاقونه موږ مونډلی شو چې له ګرامري قاعدو سره سمون نه لري او د ده د نیولوجیزم خاصه برخه جوړوي.(۱۰)
**بلاغواړی:** دغه مرکبه کلمه چې د ماجراغوښتني (وانتوریزم) په معنا ده، له دوو توکو جوړه ده:
۱. بلا، ۲. غواړی ـ غوښتونکی چې معنا یې ده
د پښتو ګرامري قاعده ده چې هم په بسیطو او هم په مرکبو کلمو کښې اشتقاقونه تول د فعل د ماضي له اساسه کېږي، نه د حال او مستقبل، لکه: غوښتل ـ غوښتونکی، لیدل ـ لیدونکی... نو په دغو راتلونکو بیتونو کې د (بلا غواړی) مرکبه کلمه په غیر قیاسي او له ګرامري قاعدې مخالفه جوړه ده.

چې لـه آسـه د کـوهي پـه غـاړه کـوز شـو
بـلاغواړی زړه یې پوه پـه بل رموز شـو(۱۱)

**اورلګانـدی(اورلګونکی):** دغـه صـفت هـم د اورلګـوونکي پـه معنـا قیاسـي نـه دی جـوړ شـوی، هغـه صـفات چـې د ( انـدی) سوفیـکس پـه مرسـته جـوړېږي لازمـي معنا افاده کوي، نه متعدي، لکه: ځپاند، زړاند، پوهاند.(۱۲)

اورلـګـانـدي چـې اور ولـګـاوه لاړه
هـغـې جـنـې لـره راغـلـه لـکـه غـاړه (۱۳)

**پېکاری: په پټه تښتېدونکی.** که څه هم د پېکاري مانا په پټه تښتېدونکی دی، خو (ی) وروستاړي په مرسته چې کوم لغتونه جوړېږي، هغه د يوې چارې ترسره کوونکی وي، لکه: پېکاری یعنې هغه خوګ چې په پټه یو کار سرته رسوي، نه دا چې پر هغه کوم کار ترسره شوی وي. دلته پېکاری مفعولي معنا ورکوي.

هـغـه زړه راښـځـه مـیـنـې پـېـکـاری کـه
چې سـاتلی و پـه جـار و پـه قربـان عقـل (۱۴)

د دې تر څنګ چې حیمد بابا نوې جوړونې کړې دي او نوي لغتونه را منځ ته کړي دي، بلې موضوع ته یې هم پام اوښتی دی چې دا هم له نوې جوړونې سره تړاو لري او هغه دا چې د حمید بابا په شعرونو کې مونږ د نورو ژبو د کلمو د کارونې او راوړلو په خوا کې سوچه پښتو کلمې هم ډېرې مونډلی شو چې دا چاره هم په شعوري توګه ترسره شوې ده او بل دا چې د نویو لغتونو د جوړولو یو ستر هدف هم همدغه دی چې ژبه د نورو ژبو د کلمو او لغتونو په زېرمه بدله نه شي.

**بډايي:** (۱. شتمني ۲. وياړ، افتخار، کبر، غرور) ظفراللغات په دويمه معنا اخيستی دی چې حميد مومند هم په دويمه معنا(د کبر، غرور او افتخار په معنا کارولی دی، خو بډايی هغه پښتو کلمه ده چې د پښتو قاموس هم د (شتمني) معنا ترې‌نه اخيستې ده او اوس هم په پښتو ژبه کې کارېدنګ لري.

**لـه عـامـه خلقه ســـوا جـامـه نـه ښـــايي ســـوا**
**چې راځي ځينې بـايي، بـډايي، خود نـمـايي (۱۵)**

**کره: معياري، سم، سوچه**

**د مـومـنـد د مـيـنــې کـوټ بـه کـره ووځـي**
**کـه پرې ځير شـــي نکتـه دان دانـا صـرافـ (۱۶)**

نه يوازې دا چې حميد مومند نوي جوړوني کړي دي او د پښتو خپل سوچه کلمې يې کارولي دي، بل مهم ټکی دا دی چې نوموړي په خپلو شعرونو کې د پښتو ژبې ګړدودي وييونه هم کارولي دي چې دلته يې په لنډه توګه څو بېلګې را اخلو:

**ايسوړی:** ايسوړی: بيلوځه(پيلوځه)

د دې مترادف لغت چې اوس هم پښتو ژبه کې ژوندی دی او حتی پر دې نامه ادبي خپروني خپرېدلي، هغه پيلوځه، يا پيلوځه ده چې په زړه پانګه کې پيلوځه بنه ليکل شوې ده او په اړه يې ليکلي دي چې يو غرنی بوټی دی.

**نـرم پـوســـت ســـره ســـيـنـه درلـره ښـــايـي**
**مـه شــــه هســـې ســـره لمبـه لـکـه ايســـوړی (۱۷)**

**بروسه:** دا لغت ظفراللغات د ډاډ، مرستې او حمايې په معنا اخيستی دی (۱۸)، خو دا کلمه اوس هم په ځينو پښتو لهجو کې کارول کېږي چې د باور او اعتماد معنا هم لري، لکه: پر تا مې هېڅ بروسه نشته.

**پايله**

لکه څنګه چې مو وړاندې هم خبرې پرې وکړې، نيولوجيزم يا هم د نويو لغتونو جوړول د يوې ژبې لـه مهمو او ورځنيو اړتياوو څخه ګڼل کېږي او څومره چې يوه ژبـه د علم، پوهې او ټکنالوژۍ ژبه ګرځي، په هماغه کچه ورته د نويو مفهمونو او څېزونو د نومولو لپاره د نويو لغتونو د جوړولو اړتيا محسوسېږي. پښـتو ژبه هم له ډېرو کلونو را په دې خوا د علم، پوهې او ادبياتو ژبه وه او ده او ســـترو اديبانو او پوهانو په پښـــتو ژبه ادبي پنځونې کړې دي او شهکار آثار يې د علم او ادب په برخه کې نړۍ ته وړاندې کړي دي.

د نيولوجيزم په برخه کې په پښـــتو ژبه کې ګڼو پوهانو او شـــاعرانو هڅې کړې او دې برخې ته يې پام اوښتی دی او دا بهير اوس مخ ته روان دی، که څه هم پوهان وايي چې د نويو لغتونو جوړول په يو ژبـه کې د منظمو علمي بنســـتونو کار دی او څومره چې دا پوهنيز ـ څېړنيز بنسټونه ډېر وي، نو په هماغه کچه به دا چاره منظمه او د علمي اصولو

په مراعتولو ســره مخ ته ځي، خو دا په دې معنا نه ده چې که علمي بنســټونه د بېلابېلو علتونو له امله نه وي او يا هم په يوه ژبه دا امکانات موجود نه وي، نو د نويو لغتونو د جوړولو بهير دې په ټپه ولاړ وي، بلکې په انفرادي توګه هم موږ د دې ګواهان يوو چې د پښتو ژبې خواخوږي له ډېرو کلونو را په دې خوا دغه مهم بهير ته متوجه دي او په دې برخه کې يې د قدر وړ کارونه کړي دي چې د دغو پوهانو له ډلې ځخه يو هم د پښـــتو ژبې ســترګور او ژبور نازکخيال شــاعر عبدالحميد مومند بابا دی چې د پښـتو نيولوجيزم بهير ته په شــعوري توګه متوجه شـوی دی او په دې برخه کې بـشکلي او په وزن برابرې جوړونې کړې او وروســـته يې نورو پلويانو او پيروانو هم د نويو لغتونو جوړولو بهير پاللی دی.

**حوالې:**


1) زيار، مجاور احمد. پښتو وييپوهنه او وييرغاونه، دانش خپرندويه ټولنه: کابل، ۱۳۹۶هـ، ل، ۷۶مخ.
2) رفيع، حبيب الله. ژبساتنه، مومند خپرندويه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۹۴ هـ، ل ۱۱۱، مخ.
3) پورتنی اثر، ۱۱۳ مخ.
4) مخکينی اثر، ۱۱۹ مخ.
5) شينواری، دوست. «د حميد مومند په اشعارو کې نيولوګيزم»، د عبدالحميد مومند ياد (دمقالو ټولګه) د پښتو څېړنو بين المللي مرکز، دولتي مطبعه: کابل، ۱۳۶۶ هــ، ل، ۵۴ مخ.
6) مومند، عبدالحميد. ديوان، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، پښتو ټولنه، ګوندي مطبعه: کابل، ۱۳۶۳، ۱۳مخ.
7) زيار، مجاور احمد. د حميد مومند ليکلار، د عبدالحميد مومند ياد سيمينار (مقالو ټولګه) د پښتو څېړنو بين المللي مرکز، دولتي مطبعه: کابل،۱۳۶۶ هــ، ل،۳۷ ـ ۳۸ مخونه.
8) شينواری، دوست. زړه پانګه، د امير کروړ د ۲۵۰ تلين د سيمنار په وياړ، د پښتو څېړنو بين المللي مرکز: کابل، ۱۳۶۳ هـ، ل، ۲۴ مخ.
9) پورتنی مأخذ، ۲۵۰ مخ.
10) شينواری، دوست. «د حميد مومند په اشعارو کې نيولوګيزم»، ۵۵ مخ.
11) زړه پانګه، ۶۹ مخ.
**12)** پورتنی اثر، ۵۶ مخ.
13) مخکينی اثر، ۳۰ مخ.
14) ياد شوی اثر، ۱۰۲ مخ.
15) زړه پانګه، ۵۵ مخ.
16) عبدالحميد مومند ديوان، ۱۲ مخ.
17) زړه پانګه. ۳۷ مخ.
18) پورتنی اثر، ۶۱ مخ.